د : {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالفَتْحُ} [النصر: 1] له نازلېدو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم هېڅ لمونځ ندى کړى مګر دا چې: «سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي

له أم المؤمنين عائشې رضي الله عنها څخه روايت دى وايي چې: د : {إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالفَتْحُ} [النصر: 1] له نازلېدو وروسته رسول الله صلى الله عليه وسلم هېڅ لمونځ ندى کړى مګر دا چې: «سُبْحَانَكَ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي» يې پکې ويلى دى. او له هغې څخه روايت دى چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپلې رکوع او سجده کې: «سُبْحَانَكَ اللهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي» زيات ويل، يعنې قرآن به يې عملي کاوه.

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

د مؤمنانو مور عايشه رضي الله عنها روايت کوي چې کله پر نبي صلى الله عليه وسلم {إذا جاء نصر الله والفتح} نازل شو: نو د قرآن د عملي کولو په موخه يې د الله تعالى د امر عملي کولو ته بيړه وکړه، چې فرمايي: {فسبح بحمد ربك واستغفره}. يعنې: د خپل رب پاکې دې له ستاينې سره بيانوه او له ده نه مغفرت غواړه) نو رسول الله صلى الله عليه وسلم به په خپلې رکوع او سجده کې: «سبحانک» ډېر ويل: يعنې تا لره پاکي ده له هرې هغې نېمګړتيا څخه چې ستا د شان سره نه ښايي، «اللهم ربنا وبحمدك» يعنې اى زمور ربه، زه ستا د ستاينې سره تسبيح وايم، ستا هغه ډول ستاينه کوم چې ستا د ذات، صفاتو او کړنو د کمال ښايي، «اللهم اغفر لي» يعنې اى الله! ماته بخښنه وکړه، زما ګناهونه ليرې کړه او تر مې تېر شه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5212